مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۲۰

# شعر څه ګټه لري؟

په دې ورځو شپو کې فیسبوک دغه بحث په سر اخیستی چې شعر ویل څه ګټه لري؟
هڅه کوم چې په لنډو ټکو کې پر ادبیاتو وغږیږم او ګټې یې دروښییم.
ادبیات د ژبې هنر دی، هماغسې چې نقاشي د شکلونو او رنګونو هنر او موسیقي د غږونو هنر دی. نو، که دا پوښتو چې ادبیات څه ګټه لري؟ دا پوښتنه ټولو هنرونو ته هم متوجه کیږي. تاسو د نقاشۍ او موسیقۍ پر ګټې فکر کړی دی؟
له بلې خوا دا پوښتنه منطقي برېښي ځکه چې انسان به ولې خپل او د نورو وخت پر داسې شي لګوي چې ګټې او تاوان یې نه وي معلوم؟
هېڅ هنر بې ګټې نه دی. خو، دلته به یوازې د ادبیاتو ګټې یادوم.
ادبیات (شعر، نکل، حکایت، لنډه کیسه، ناول ...) د انسان تخیل روزي او تخیل ته یې وده ورکوي. تخیل د ژوند په هر ډګر کې د انسان په درد لګیږي. عادي انسان، بزګر، کسبګر، ساینسپوه، ډاکټر، انجینیر، وکیل ... او هر څوک له تخیله په خپل ژوند او مسلک کې کار اخیستی شي. بلکې که تخیل نه وای، هېڅ پرمختګ به نه رامنځته کېده.
اېنشټین وایي: «تخیل تر پوهې ډېر مهم دی».
اېنشټین ولې دا خبره کوي؟ ځکه چې د تخیل په مرسته انسان د هغو شیانو او مفاهیمو تصور په ذهن کې جوړوي چې عملاً او په واقعي دنیا کې ناممکن وي. که ساینسپوه یوازې پر ممکناتو فکر وکړي، هېڅکله به نوي کشفیات او اختراعات ونه کړای شي. دا د تخیل کمال و چې انسان ځان په فضا کې ولید چې د ستورو تر منځ الوځي. وروسته بیا ساینسپوهانو د دې خیال د تحقق لپاره څېړنې وکړې او لاري چاري یې ورته وموندې. هره اختراع او هر اکتشاف د تخیل محصول دی. دا د تخیل برکت دی چې نن ډاکټران له کاره لوېدلی زړه بدلوي او د انسان عمر غځوي.
د تخیل بله عمده ګټه دا ده چې د بل له فکر او حاله مو خبروي. ادبیات درته د بل چا درد، د بل کړاو، د بل خوښي او د بل هیلې ښیي. ته له بل سره خواخوږي پیدا کوې، د بل درد خپل درد ګڼي او چې داسې شي، بل ته د ضرر رسولو ته زړه نه ښه کوي. د ادبیاتو د دې کمال عملي بېلګه مو په خپلو سترګو لیدلې. پخوا به د افغانستان په جوماتونو او مدرسو کې د دیني مضمونونو تر څنګ د رحمان بابا دېوان، د خواجه حافظ دېوان، د سعدي بوستان او ګلستان، پنج کتاب او نور ادبي اثار تدریسېدل. په همدې وجه زمونږ پخواني ملایان او طالبان نرم او مهربانه خلک وو، دوی پوهېدل چې په واده کې خوشحالي او په غم کې ژړا په کار وي. خو دا نوي طالبان (د طالبانو اسلامي تحریک) چې د پاکستان په مدرسو کې یې سبقونه ویلي او ادبیات یې په نصاب کې نه وو، وګورئ چې څومره ظالم او بې رحمه خلک دي. دا په دې چې دوی د بل درد نه شي درک کولای.
ادبیات د انسان په ذهني وده کې مرسته کوي. څېړنې ښیي، هغه ماشومان تر خپلو همزولو زیات هوښیار وي چې مینډې پلرونه ورته کیسې وایي یا یې لولي. ماشومانو ته د کیسې ویلو بله ګټه دا ده چې د ماشوم او مور و پلار ترمنځ مینه محبت زیاتوي.
ماشومانو ته د کیسو ویل، د ژبې په زده کړه کې ورسره مرسته کوي، د لغتونو زېرمه یې ورزیاتوي، د ژبې له ګرامري جوړښتونو سره یې اشنا کوي، د کلمو په سم تلفظ یې پوهوي، د کلمو له شکلونو سره یې بلدوي او چې ښوونځي ته لاړ شي، د درسونو لوستل او زده کول ورته اسانوي.
شعر د ماشومانو حافظه ځواکمنوي. انسان موزون کلام په اسانۍ سره حافظې ته سپارلی شي. تاسو به لیدلي وي چې ماشومان څنګه شعرونه یادوي او په خوند خوند یې زمزمه کوي.
هر ښه شعر او ښه داستان لوستونکی فکر کولو ته اړ باسي نو د تفکر قوه یې غښتلي کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ادبياتو بله ګټه دا ده چې انساني عواطف او احساسات بيانوي. کله کله سړی په دې اووه ميلياردە وګړو کې ځان يوازې ګڼي، هېڅوک نه مومي چې د ده درد، د ده احساس حس کړي. خو، کېدای شي په يوه شعر کې، په يوه داستان کې د خپل احساس انعکاس وويني او داسې ښه وربانديې ولګېږي لکه يو ډېر خوږ دوست او ملګری چې يې موندلی وي. انسان باطني ارام او سکون ته اړتيا لري او کله کله دغه سکون يوازې ادبيات ورکولی شي. اوس چې دنيا ورځ تر بلې د ټکنالوجی تر اغېزې لاندې راځي او د انسانانو تر منځ د اړيکو او خبرو اترو فرصتونه وار په وار سره کمېږي، ادبيات لا زيات په درد لګېږي چې دوی له يوازيتوبه وژغوري.

نو د ادبياتو (شعر او داستان) ګټې دا شوی:

۱ .د انسان تخيل روزي او تخيل د ټولو علمي پرمختګونو کونجي ده.

۲ .په انسان کې له نورو سره د خواخوږۍ حس پيدا کوي نو د ټولنې ثبات او سوله ييز ژوند د ادبياتو په مرسته تامينېدای شي.

۳ .د انسان د فکر کولو ځواک زياتوي.

۴ .ادبيات د ماشومانو حافظه، ژبنې مهارتونه او سلوک پياوړي کوي.

۵ .انسان ته دروني سکون وربخښي او د اروادرملنې په شان ګټور تمامېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ